د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

**۱۴/ جمادی الآخره/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۴/ قوس/۱۴۰۴هـ، ش**

# د وچکالی پر مهال د استسقاء( اوربښتونو د غوښتلو) ضرورت، شرعي حکم او طريقه يی

الحمد لله (الذي ينزل الغيث من بعد ما قنطوا وينشر رحمته، وهو الولي الحميد) .. خلق فسوى، وقدر فهدى، وأخرج المرعى ، فجعله غثاء أحوى .. والسماءَ بناها، والأرضَ دحاها، أخرج منها ماءها ومرعاها، والجبالَ أرساها.. وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله ، حبيبنا وقرةُ عيوننا ، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً ، أما بعد .

قال الله سبحانه وتعالى:(فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً * مَا لَكُمْ لا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَاراً * وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَاراً * أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقاً * وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُوراً وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجاً).نوح: (۱۰-۱۶)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د ځمکې پر مخ ټول ژوندي حيوانات، انسانان، حشرات، مرغان په اوبو باندې ژوندي دي.

همدارنګه فصلونه ، باغونه ونې بوټې په اوبو باندې تر اوتازه دي .د انسانانو او څارويو او نورو ژونديو ژوو خوراک او څښاک په اوبو پورې تړلی دی. لکه چې الله جل جلاله فرمايلې دي: (وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ). الانبياء:(۳۰)

ترجمه: او پيدا کړي دي مونږ له اوبو څخه هر شی ژوندی.

بارانونه د الله تعالی عظيم رحمت دی چې له امله يې د ځمکې په سره مخلوقات ژوندي دي. کله چې بارانونه او واورې وريږي ، نو نهرونه په ابو ډک شي، په غرونو او خوړونو کې چينې و بهيږي ، سيندونه را ډک شي او انسانان او نورو ژوندي مخلوقات ورڅخه ګټه پورته کړي او د خپل ژوند چارې ورباندې رواني کړي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:

(وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا * لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا * وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا فَأَبَى أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ) الفرقان:(۴۸،۵۰)

ترجمه:او همدغه (الله) هغه ذات دی چې راليږلي يې دي بادونه زيري کوونکي د وړاندې د رحمت د دغه (الله چې باران دی) او نازلې کړې دي مونږ له (طرفه) د آســمانه اوبه پاکې پاکوونکي لپاره د دې چې ژوندي کړو مونږ په دې اوبو ځمکه مړه وچه بې زرغونوالي وچه او ور وڅښوو دغه اوبه له جملې دهغو شيانو څنې چې پيدا کړي دي مونږ له چارپايانو او انسانانو ډيرو ته. او خامخا په تحقيق راز راز ډولونو تقسيم کړي دي مونږ دغه اوبه د باران منشا په منځ د دوی کې لپاره د دې چې فکر وچلوي دوی په کمال د قدرت زمونږ کې پس منع راوړه زياترو خلقو د شکر ګزاری نه ليکن د نعمت له کفران څخه يې منع رانه وړه.

که اوبه او بارانونه نه وي، نو د دې خاکي نړۍ په سر ژوند ناشونی دی. بارانونه دي چې له امله یې فصلونه، ونې بوټي، شنې ګیاوې را زرغونیږي او لوییږي، کله چې وچکالي وي ، نو فصلونه ، ونې بوټي او شنه ګیاوې نه را زرغونیږي او که را زرغون هم شي بیرته وچیږې او له منځه ځي، چې بالآخره انسانان، حیوانات حتی په هوا کې مرغان وږي کیږي او له قحطۍ سره مخ کیږي ، نو مونږ ته په کار دي چې د الله تعالی څخه د اورښــتونو غوښــتنه وکړو او له الله تعالی وغواړو چې پر مونږ باران وکړي او زیات استغفار ووایو.

او هرکله چې د بارانونو وریدل بندی شي، نو په حقیقت کې د الله تعالی عظیم رحمت بند شي، چې په نتیجه کې یې وچکالي رامنځ ته شي ، قحطي رامنځ شي او دځمکې په سر ژوند د پریشانۍ او سختۍ سره مخ شي دا بیا هغه حالت دی چې یا خو انسانانو الله تعالی په خپلو کړو ، ګناهونو او جرمونو سره ناراضه کړی د ی او یا داچې الله تعالی انسانان په لوی ازمیښت کې اچولی دي، ترڅو انسانان الله تعالی لورې ته توجه واړوي، هغه ته فریادونه وکړي ، الله تعالی ته توبه وباسي ، زیات استغفار ووایې ، په فردي او ډلییز ډول د الله تعالی څخه بارانونه وغوړاړي او د هغه څخه اوبه وغواړي.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: ( وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ) [الأعراف: ٩٦]

ترجمه: او که خلقو د دې کلیو ښارونو ایمان راوړی وی او تقوی یې غوره کړې وی نو خامخا پرانیستلي به وی مونږ پر دوی باندې دروازې د برکتونو له لوري د آسمانه د باران په اورولو او له لوري د ځمکې په زرغونولو د محصولاتو ولیکن نسبت د دروغو وکړ دوی انبیاوو ته نو ونیول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به یې دکفر او معاصیو څخه.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ).الأنبياء:(٣٥)

ترجمه:او ازما یو مونږ تاسې په دنیا کې په شر بدۍ او په خیر نېکۍ سره په ازموینه او خاص مونږ ته به راوستلی شئ د جزا لپاره.

کله چې په ځمکه کې وچکالي رامنځ ته شي، نو انسانان اړ دي چې د الله تعالی څخه د بارانونو غوښتنه وکړي ، ځکه چې اوبه او بـارانونـه ورول خـاص د الله تعالی په اختیار کې دي ، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:( وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ) الشورى: (٢٨)

ترجمه:او الله لوی ذات دی چې نازلوي باران وروسته له هغه چې نا امیده شي خلق له وربدلو یې او خوروي رحمت باران خپل په ټولو ځایونو کې او همدی دی ولي دوست کار جوړوونکی ډېر ثنا ویلی شوی.

د بـارانونو وریدل د ځمکې آبادي ده او پرته د بارانونو د وریدو د ځمکې په سر ژوندون د هلاکت سره مخ کیږي او د وچکالۍ او قحطۍ له امله زندګي ختمیږي او یا له لوی خطر سره مخ کیږي؛ نو د وچکالۍ د لرې کولو لپاره مسنون طریقه داده چې مسلمانان به استسقاء (د اورښتونو غوښتنه) کوي .

همداراز وچکالي او د اورښتونو نشتوالی یو ډول د الله تعالی عذاب دی لکه څرنګه چې اورښتونه او بارانونه یې رحمت دی او ځینې وخت وچکالي د واجبي حقوقو د نه اداء کولو په وجه هم راځي. بناءً مونږ انسانانو ته په کار دي چې دالله جل جلاله څخه د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړو او واجبي حقوق اداء کړو او استسقاء (اورښتونو غوښتنه ) وکړو، ترڅو پر مونږ ورحمیږي او وچکالي له منځه یوسي.

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ خَمْسٌ إِذَا ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ: لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ، وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا، وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ، وَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ، إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ، وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا». سنن ابن ماجه (۲/ ۱۳۳۲)

ژباړه: د عبدالله بن عمر ر ضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايې چې مونږ ته مخ راواړولو رسول الله صلی الله عليه وسلم او داسې يې وفرمايل: ای د مهاجرينو ټولګيه ! پنځه خويونه دي چې کله تاسې وربانديې اخته شوی – او زه په الله تعالی پناه غواړم ددينه چې تاسې د هغې مرتکب شی- ( دغه عذابونه به درته رسيږی).نه ظاهريږي زنا په يو قوم کې هيڅکله تر دې پورې چې دوی په ښکاره ډول يې ترسره کړي؛ مګر دا چې طاعون مرض او نور مرضونه په کې خپريږي هغه مرضونه چې نه دي تير شوي ددوی په پخوانيو خلکو کې هغه خلک چې پخوا تير شــوي دي او نه کموي دوی پيمانه او تله ؛ مګر دا چې نيول کيږي به په وچکالۍ او قحطی سره او سختۍ سره او د پادشاه په ظلم سره، او نه منع کوي زکات دمالونو خپلو؛ مګر منع کيږي به ورڅخه باران له اسمان څخه که چيرې حيوانات نه وای هيڅکله به وربانديې باران نه ؤ شوی.

امام قرطبي رح وايې:(ظهرت المعاصي في البر والبحر فحبس الله عنهما الغيث وأغلى سعرهم ليذيقهم عقاب بعض الذي عملوا.) تفسير القرطبي (١٤/ ٤١)

ترجمه: ښکاره شول ګناهونه په وچه او بحر کې نو الله تعالی ددوی څخه باران بند کړ او نرخونه يې ورلره زيات کړل، ددې لپاره چې وڅکي جزا د هغه کارونو چې دوی کړي دي.

عن عمر بن عبد العزيز يقول :كان يقال ان الله تبارك وتعالى لا يعذب العامة بذنب الخاصة ولكن إذا عمل المنكر جهارا استحقوا العقوبة كلهم). الموطأ - رواية يحيى الليثي (۲/ ۹۹۱)

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمايي: (د صحابه وو په زمانه کې) به ويل کيدل، چې الله تعالي د خاصو خلکو د ګناه له امله عام خلک نه په عذابوي، مګر کله چې منکَر سر عام شي، نو بيا ټول د عذاب مستحق ګرځي.

حتی چې د خلکو د ګناهونو په وجه حيوانات او حشرات هم په تکليف کې پريوزي.

په يو روايت کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَـمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: إِنَّ الظَّالِمَ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَـهُ، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: « بَلَى وَاللهِ، حَتَّى الْحُبَارَى لَتَمُوتُ فِي وَكْرِهَا هُزَالًا لِظُلْمِ الظَّالِمِ». شعب الإيمان (۹/ ٥٤٥)

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه له يو سـړي څخه واوريدل چې ويل يې:(ظالم بل چاته ضرر نه شي رسولی، مګر خپل ځان ته). ابوهريره رضي الله عنه ورته وويل: بلی ! قسم په الله چې (د ظالم د ظلم ضرر ) رسيږي حتی حُبارَی مرغۍ ته چې هغه مړه کيږي په ژاله خپله کې د کمزورۍ له وجی نه په سبب د ظلم د ظالم.

يعنی مرغانو ته هم د ظالم دظلم زيان رسيږي او کله چې د ظالم دظلم په وجه وچکالي او قحطي راشي نو مرغان په خپلو ځالو کې مړه کيږي.

استسقاء د مخکنيو انسانانو او وروستينو او راتلونکو مسلمانانو لاره ده او سليم زړونه او سليم فطرت انسان دې ته هڅوي چې د خپل رب څخه خپل حاجتونه وغواړي او چې کله د وچکالۍ په څير مصيبت کې ولويږي ؛ نو خپل پروردګار ته خپل حاجت وړاندې کوي او د خپل خالق او مالک څخه د مصيبت د لرې کولو غوښتنه کوي.

ترڅو الله تعالى يې فرياد واوري او د هغوی څخه د وچکالۍ تکيف لرې کړي او خپل رحمت بارانونه ور باندې وه وروي.
حضرت موسی عليه السلام هم د خپل قوم لپاره استسقاء کړ وه. ( وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ ) البقرة:(٦٠)
ترجمه: او ياد کړئ هغه وخت چې اوبه و غوښتې موسی خپل قوم ته( په ميدان د تيه کې)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې به چې کله بارانونه بند شول او وچکالي به زياته شوه ، صحابه کرامو به نبي عليه السلام د وچکالۍ يادونه وکړه او نبي عليه السلام به د وچکالۍ د لرې کولو لپاره استسقاء کوله.

په يو روايت کې راځي:( شكا رجل إلى الحسن الجدوبة فقال له : استغفر الله. وشكا آخر إليه الفقر فقال له : استغفر الله. وقال له آخر. ادع الله أن يرزقني ولدا ؛ فقال له : استغفر الله. وشكا إليه آخر جفاف بستانه ؛ فقال له : استغفر الله. فقلنا له في ذلك ؟ فقال : ما قلت من عندي شيئا ؛ إن الله تعالى يقول في سورة "نوح" : {اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً. يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً...). الجامع لأحكام القرآن (١٨/ ٣٠٢)

ترجمه: يو شخص حسن بصری رحمه الله ته د وچکالۍ څخه شکايت وکړ ، هغه ورته وويل استغفار ووايه . بل شخص ورته د فقر څخه شکايت وکړ، هغه ورته ووېل : استغفار ووايه. بل ورته ووېل دالله تعالى څخه زما لپاره د زوی سوال وکړه! هغه ورته ووېل: استغفار ووايه. بل شخص ورته د باغ د وچيدو څخه شکايت وکړ، هغه ورته ووېل چې استغفار ووايه. مونږ ورته ووېل چې ټولو ته دې ووېل چې استغفار ووايه؟ يا داچې مونږ ورته ووېل چې ته دا خبره له کومه کوئ؟ حسن بصری رحمه الله ووېل : چې دا ما دځان څخه نه دي ويلي ، الله تعالى په سورت نوح کې فرمايي (اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً. يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً .وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً} (نوح:١٠-١٢)

په دې شک نشته چې د الله تعالى عذابونه چې راځي اکثره دگناهونو په وجه راځي ، که چيرې د نوح عليه السلام او هود عليه السلام په قوم باندې باران بند شوی ؤ، هغه هم د گناهونو په وجه ؤ او که چيرې په نور چا باندې د آسمان دروازې بنديږي، هغه هم د گناهونو په وجه بنديږي. الله تعالى فرمايلي دي: {ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الروم:(٤١)

ترجمه: په وچه او لونده (بر او بحر ) کې فساد خپور شو په سبب د هغو (عملونو) چې د خلکو لاسونو کړي دي، ددې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځينې برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي، ددې لپاره چې دوی را واپس شي.

داسې نه ده چې وچکالي بواځې سږ کال پيښه شوی ده، بلکې وچکالي د رسول الله صلى الله عليه وسلم پروخت او د صحابه کرامو په وختونو کې او په تير اسلامي امت کې په هر وخت کې پيښه شوې ده او هغوی به استسقاء کوله او د فقهي په کتابونو کې د استسقاء(اورښتونو غوښتنې) ځانگړې احکام دي .

رسول الله صلى الله عليه السلام په خپل ژوند کې مختلفو شکلونو سره استسقاء (اورښتونو غوښتنه) کړې ده.

يوځل يې د جُمعې په ورځ د خطبې پرمهال استسقاء (اورښتونو غوښتنه ) وکړه او داسې دعاء يې وکړه: اللَّهُمَّ أَغِثْنَا، اللَّهُمَّ أَغِثْنَا، اللَّهُمَّ أَغِثْنَا، اللَّهُمَّ أَسْقِنَا، اللَّهُمَّ أَسْقِنَا) متفق عليه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ جُمُعَةٍ مِنْ بَابٍ كَانَ نَحْوَ دَارِ الْقَضَاءِ وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَائِمًا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَتِ الأَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللَّهَ يُغِثْنَا. قَالَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ « اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا ». صحيح مسلم (٣/ ٢٤)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې بیشکه یو سړی مسجدنبوي ته د جُمعې په ورځ د دار القضاء ددروازې له خوا ننوتلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ولاړ ؤ خطبه یې ویله ، نو مخامخ ودریده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او بیایې وویل ای د الله رسوله! مالونه هلاک شول او لارې بندې شوې(یعنې اوښان دتندې له امله په لاره له تللو پری وتل)، ته د الله تعالی ته سوال وکړه چې پر مونږ باران وکړي. حضرت انس رضي الله عنه وایې چې نبي علیه السلام دواړه لاسونه پورته کړل او بیایې وویل: ای الله ! پر مونږ باران وکړه ! ای الله پر مونږ باران وکړه! ای الله پر مونږ باران وکړه.

همدا راز نبي علیه السلام پرته له خطبې او لمانځه په عادي حالت کې استسقاء (اوربښتونو غوښتنه) کړی ده. یوځل نبي علیه السلام په مسجد نبوي کې ناست ؤ ، لاسونه یې اسمان ته پورته کړل او استسقاء (اوربښتونو غوښتنه) یې وکړه.

په یو روایت کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أَتَتِ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- بَوَاكِى فَقَالَ« اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ ». قَالَ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ. سنن أبى داود-ن (١/ ٤٥٤)

ژباړه: د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې نبي علیه السلام ته زنانه په ژړا راغلې(د وچکالی او بارانونو د بندیدو له امله) ، په یو روایت کې راځي چې نبي علیه السلام دواړه لاسونه پورته کړل او داسې دعاء یې وکړه: ای الله! پر مونږ باران وکړه خړوبوونکی باران، ښه حاصل ورکوونکی او نفع رسوونکی، چې ضرر رسوونکی نه وي ، چې په عاجله توګه وي او په تأخیر سره نه وي. حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه وایې، نو پټ کړل دوی لره وریځ. (یا پټ کړل دوی لره باران)

همدا راز استسقاء (د اوربښتونو غوښتنه) رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه د اداء کولو په ډول هم کړی ده.

په یو روایت کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ شَكَى النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قُحُوطَ الْمَطَرِ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِى الْمُصَلَّى وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُونَ فِيهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ -صلى الله عليه وسلم- وَحَمِدَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ قَالَ « إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِئْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ تَدْعُوهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيبَ لَكُمْ ». ثُمَّ قَالَ « (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ) لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ اللَّهُمَّ أَنْتَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ الْغَنِىُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلاَغًا إِلَى حِينٍ ». ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ فِى الرَّفْعِ حَتَّى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ حَوَّلَ عَلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَقَلَّبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَأَنْشَأَ اللَّهُ سَحَابَةً فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللَّهِ فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتَّى سَالَتِ السُّيُولُ فَلَمَّا رَأَى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ -صلى الله عليه وسلم- حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ فَقَالَ « أَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنِّى عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ ». سنن أبى داود-ن (١/ ٤٥٥)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې خلکو شکایت وکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بندیدو د باران څخه نو نبي علیه السلام امر وکړ (په وړلو) د ممبر او ممبر د نبي علیه السلام لپاره کینول شو په عیدګاه کې او نبي علیه السلام وعده ورکړه خلکو ته یوه ورځ چې په هغه ورځ کې به وځي (هغه مشخص ځای ته) . حضرت عائشه رضي الله عنها وایې چې په هغه (ټاکل) شوې ورځ کې نبي علیه السلام ووتلو کله چې ښکاره شوې وریزې د لمر ، نو په ممبر کیناستلو او تکبیر یې وویلو او د الله تعالی لپاره یې ثناء وویله او بیایې وفرمایل: بیشکه تاسې شکایت کړی ؤ د وچکالی د منطقو خپلو او د تأخیر د باران د خپل وخت څخه له تاسو نه، بیشکه الله جل جلاله تاسو ته امر کړی دی چې تاسې به له هغه څخه حاجت غواړی او الله تعالی له تاسو سره وعده کړی ده چې ستاسې سوال او غوښتنه به قبلوي بیا یې وویل:( الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ، أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ، وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلَى حِينٍ») ټوله ثناء خاص الله تعالی لره ده چې پالونکی د مخلوقاتو دی ، ډیر رحم والا دی او بې حده مهربان دی، باچا

دی دورځې د قیامت ، نشته لائق د عبادت ، مگر الله تعالی دی، کوي هغه څه چې اراده یې وکړي.ای الله ! ته الله یې نشته بل الله مگر ته یې چې غني یی او مونږه فقیران یو، نازل کړه پر مونږ باندې باران او وه گرځوه هغه څه چې ته یې نازلوې زمونږ لپاره قوت او دوامداره تر خپل وخت پورې، بیایې لاسونه دواړه پورته کړل ، خپل دواړه لاسونه یې دومره پورته کړل آن چې د تخرگونو سپین والې یې ښکاره شو ، بیا یې خلکو ته خپله شا واړوله (یعنې قبلې ته یې مخ کړ) او وایې ړولو ځادر خپل په داسې حال کې چې خپل لاسونه یې پورته کړي وو، بیا یې مخ راواړولو خلکو ته او له (ممبر ) څخه را ښکته شو او دوه رکعته لمونځ یې وکړ، نو الله تعالی وریځ را پیدا کړه نو پړقایې وکړه او روښـنایې وکړه او بیایې باران وو ورولو د الله تعالی په اذن سره. نبي علیه السـلام خپل مسـجد ته نه وو رسـیدلی چې جارې شـول سـیلابونه ، کله چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم ولیده په تیزی سره تلل ددوی چوپالونوته ، نبي علیه السلام وخندل تر پورې چې ښکاره شول د نبي علیه السلام غاښونه او داسې یې وویل:«أَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، وَأَنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ» زه گواهي ورکوم ددې خبرې چې الله تعالی په هر څه قادر دی او زه دالله بنده او رسول یم. همدارنگه رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم په یوه غزوه کې استسقاء کړی وه او نبي علیه السلام د استسقاء په دعاء کې داسې وفرمایل: « اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهَائِمَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ ». سنن أبى داود-ن (١/ ٤٥٧)

ژباړه: ای الله ! خړوب کړي ته خپل بندگان او حیوانات او خور کړه رحمت خپل او ژوندی کړه خپل مړ ښار. (یعنې وچ ښار) د نبي علیه السلام د وفات څخه وروسته صحابه کرامو او تابعینو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دا سُنت ژوندي ساتلي دي.

په وچکالۍ سره فصـــلونه مړه کیږي، بوټي او ونې وچیږي، د ځمکې شـــینوالی له منځه ځي، میوې خرابیږي، مالونه څاروي او حیوانـات تږي او وږي کیږي ، قحطي رامنځ تـه کیږي او په خلکو کې خوار ځواکي رامنځ ته کیږي، ددغو ضررونو څخه د ځان ساتلو لپاره ضرورت دی چې استسقاء(اوربښتونو غوښتنه) وکړو.

مونږ د الله تعالی بنده گان یو ، کله راته راحت رسیږي او کله راته مصیبت او سختي رسیږي او مونږ په دې عقیده لرو چې مسلمان د هر مشکل پر وخت باید خپل رب ، خالق او رازق ذات ته توجه وکړي او خپل حاجت هغه ته وړاندې کړي، نو کله چې وچکالي راشي دا سنت طریقه ده چې مسلمانان په خپلو خپلو کلیو او منطقو کې د استسقاء لمونځونه اداء کړي.

## د وچکالۍ پر مهال د استسقاء( اوربښتونو د غوښتلو) شرعي حکم

د حنفي فقهې د متونو په اساس دامام اعظم ابو حنیفه رحمة الله په نزد په استسقاء (اوربښتونو غوښتلو) کې په جماعت سره لمونځ کول مسنون عمل نه دی؛ بلکې استسقاء یواځې دعاء او استغفار ویل دي ، خو که چیرې خلک په استسقاء کې ځانته ځانته لمونځ وکړي جواز لري او د یارانو په نزد په استسقاء کې په جماعت سره دوه رکعته لمونځ کول سنت دي.الجوهرة النيرة (١/ ٣٨٢)

خو په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې راځي مفتی به قول دادی، چې په استسقاء کې دوه رکعته لمونځ په جماعت سره د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله په نزد مستحب دی او د یارانو په نزد د استسقاء دوه رکعته لمونځ په جماعت سره سنت دی.فتاوی دارالعلوم دیوبند، ج ۵، ص:۲۴۰ /ط ونشر دارالعلوم دیوبند

او دعلامه ابن عابدین رحمه الله په دې عبارت سره یې استدلالا کړی دی:(قلت: والظاهر أن المراد به الندب والاستحباب لقوله في الهداية: قلنا إنه فعله عليه الصلاة والسلام مرة وتركه أخرى فلم يكن سنة اه: لان السنة ما واظب عليه، والفعل مرة مع الترك أخرى يفيد الندب.) حاشية رد المحتار (٢/ ١٩٩)

ژباړه: زه وایم ظاهر داده چې ددې څخه مراد مندوب توب او استحباب دی، ځکه چې د هدایې صاحب لیکلي دي: استسقاء لمونځ ځینې وخت نبي علیه السلام کړی دی او ځینې وخت یې پریښی دی ، نو سنت نشو، ځکه سنت هغه دي چې پر هغې باندې همیشه والی کړي وي او یو ځل کول او بر ځل پریښودل د استحباب افاده کوي.

الدر المختار کې راځي:(وقالا: تفعل كالعيد) الدر المختار (۲/ ۲۰۰)

ژباړه: او یاران وایې چې استسقاء لمونځ به د اختر د لمانځه په شان کیږي.

استسقاء (اوربښتونو غوښتل) یو مسنون عمل دی او مفتی به قول دادی چې د استسقاء دوه رکعته لمونځ په جماعت سره د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله په نزد مستحب او د یارانو په نزد د استسقاء دوه رکعته لمونځ په جماعت سره سنت دی.فتاوی دارالعلوم دیوبند، ج ۵، ص:۲۴۰ /ط ونشر دارالعلوم دیوبند

الله جل جلاله فرمایلي دي: { فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كان غَفَّارًا يُرْسِلُ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا } نوح: ( ۹-۱۰)

ترجمه: نو ومې ویل دوی ته بښنه وغواړئ له ربه خپله له شرکه بېشکه هغه (الله) دی ډېر بښونکی توبه کوونکیو لره هر کله چې توبه وباسي.

بل داچې د استسقاء (اوربښتونو په غوښتلو) په باره کې زیات احادیث راغلي دي او نبي علیه السلام استسقاء لمونځ کړی دی او د الله تعالی څخه یې د باران وریدل غوښتلي دي.

همدارنګه د نبي علیه السلام څخه وروسته خلفای راشدینو استسقاء (باران غوښتل) کړی ده او اسلامي امت په استسقاء باندې سلفاً او خلفاً اجماع کړی ده . البحر الرائق( ۲/ ۱۸۱)

او لکه څرنګه چې استسقاء په جماعت سره مسنون عمل دی ، همدارنګه د لمانځه څخه وروسته خطبه ویل هم د یارانو په نزد باندې مسنون ده او دامام اعظم رحمة الله په نزد باندې خطبه ویل د استسقاء په لمانځه کې مندوب او مستحب ده.
د استسقاء لمانځه لپاره ټاکلی وخت نشته، د مکروه وخت څخه علاوه په هر وخت کې کیږي .

**د استسقاء (اوربښتونو د غوښتلو) طریقه:**

مفتي به قول دادی چې امام به د اختر د لمانځه په شان دوه خطبې ووایې.
د استسقاء په لمانځه کې غوره داده چې د کومو امامانو په منطقه کې صحراء یا بل پاک او مناسب ځای هغه ځای ته به وزي، خو د لمانځه ځای ته د ممبر وړل په کار نه دي ، خو چیرې چا ویوړ جواز لري.
ابن نجيم رح وايي: (وَلَا يُخْرَجُ في الاِسْتِسْقَاءِ مِنْبَرٌ بَلْ يَقُومُ الْإِمَامُ وَالْقَوْمُ قُعُودٌ فَإِنْ أخرجو الْمِنْبَرَ جَازَ). البحر الرائق (۲/ ۱۸۲)

ژباړه: او نه به ویستل کیږي په استسقاء کې منبر ، بلکې امام به دریږي او قوم به کیني ، خو که چېرې منبر یې وویستلو جواز لري.

کله چې امام خطبه وویله بیا به د نیک فألی په توګه څادر سرچپه کړي، هغه داسې چې قحطي دې الله په ښیرازۍ بدله کړي او سختي دې الله په آسانی بدله کړي. د څادر اړولو طریقه په فتاوی عالمګیري کې داسې ذکر شوی ده:(وَصِفَةُ تَقْلِيبِ الرِّدَاءِ إنْ كان مُرَبَّعًا جَعَلَ أَسْفَلَهُ أَعْلَاهُ وَأَعْلَاهُ أَسْفَلَهُ وَإِنْ كان مُدَوَّرًا جَعَلَ الْجَانِبَ الْأَيْمَنَ على الْأَيْسَرِ وَالْأَيْسَرَ على الْأَيْمَنِ). الفتاوی الهندیة (۱/ ۱۵٤)

ژباړه: که چیرې څادر څلور کونجه ؤ ، نو لاندې طرف دې پورته واړوي او پورته طرفونه دې لاندې کړي او که چیرې څادر ګرد ؤ ، نو ښي طرف دې په چپ واوړوي او چپ طرف دې په ښي طرف واړوي.

د څادر اړولو څخه وروسته به قوم کیني او امام به مخ قبلې ته واړوي او دعاء به وایې او قوم به ور باندې امین ووایې.

**د استسقاء لمانځه مستحبات:**

د وچکالۍ پر وخت بهتره ده چې امامان خپل قوم ته د توبې په ویستلو، د روژو په نیولو، د استغفار په ویلو او د صدقاتو په ورکولو امر وکړي .

درې ورځې د استسقاء لمانځه ته پې درپې وتل مستحب دي؛ ځکه چې په دې کې تواضع او عاجزی ته نږدې کار دی. الدر المختار (۲/ ۲۰۰)

د استسقاء لمانځه د وتلو په وخت کې باید ټول خلک د زیاتې عاجزۍ او خاکسارۍ اظهار وکړي او مستحب ده چې په لوڅو پښو سره د لمانځه ځای ته ووځي. مستحب ده چې د لمانځه ځای ته په وتلو کې سپین ږیري او ماشومان هم له ځان سره وباسي؛ ځکه په دوی باندې د الله تعالی رحمت ژر نازلیږي. الدر المختار (۲/ ۲۰۰)بهتره داده چې مأثوره دعاء ووایې.

امام به مخ قبلې ته واړوي او قوم دې هم مخ قبلې لورې ته واړوي او امام به خپل لاسونه اوچت نیولي وي، خو د سره څخه به یې نه اچتوي.

که چیرې باران ونه شو ، نو مستحب ده چې درې ورځې به د استسقاء لمونځ وکړي او د الله جل جلاله څخه دې نه ناامیده کیږي. تحفة الفقهاء (١/ ١٨٦)

په اللباب في شرح الکتاب کې راځي:( ویستحب الخروج له إلى الصحراء؛ إلا في مكة وبيت المقدس فيخرجون إلى المسجد ثلاثة أيام مشاة في ثياب خلقة غسيلة متذللين متواضعين خاشعين لله تعالى ناكسين رءوسهم مقدمين الصدقة كل يوم قبل خروجهم، ويحددون التوبة، ويستسقون بالضعفة والشيوخ والعجائز والأطفال). اللباب في شرح الكتاب (ص: ٥٩)

ترجمه: مستحب ده چې په استسقاء کې دې صحراء ته ووځي علاوه د مکې مکرمې څخه او بیت المقدس څخه. مسجد ته به درې ورځې پیادل وځي په زړو جامو کې چې وینځل شوي وي، په داسې حال کې چې عاجزي کوونکي به وی ، تواضع کوونکي به وي او الله ته به خشوع کوونکي وي، سرونه به ښکته اچوي او هره ورځ به صدقه وړاندې کوي د وتلو څخه مخکې ، توبه به زیاته وباسي او استسقاء به کوي په ضعیفانو، بوډاگانو او ماشومانو باندې.

نوټ: ټول امامان باید د جمعې د لمانځه د اداء کولو څخه وروسته خپلو مقتدیانو ته د استسقاء د لمانځه ځای او وخت ور وښائي او په خپلو منطقو کې دې داستسقاء لمونځونه د جمعې لمانځه څخه وروسته او د مازیگر د لمانځه څخه مخکې اداء کړي.

**« اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ ».**